**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۱٦** (از ۱۲ الی ۱۹ ثور ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### بررسی موانع صلح در نشست قطر

- اجلاس پگواش در قطر ........ ۴
- بیانیۀ طالبان در این نشست ........ ۴
- موانع صلح از نظر طالبان ........ ۵
- قانون اساسی ........ ۵
- نتیجه ........ ٦

### وروستۍ نامني؛ عوامل او نړيوالې توطئې

- داخلي سیاست ........ ۸
- امنيتي تړون ........ ۸
- پوځي عملیات ........ ۹
- خارجي سیاست ........ ۱۰
- نړیوال لاملونه ........ ۱۰
- د وزیرستان عملیات ........ ۱۰
- داعش بله ........ ۱۱

## مقدمه

د ملي وحدت د حکومت له جوړېدو سره، عامه ذهنيت دا و چې د سولې په تړاو به ګړندي ګامونه اوچت شي او له طالبانو سره به د روغې جوړې خبرې پيل شي. په دې تړاو، تر ډېره د سيمې پر هېوادونو او ګاونډي هېواد پاکستان تکيه وشوه؛ خو لاهم په دې برخه کې کومه لاسته راوړنه نه ده ترسترګو شوې.

تېره اوونۍ په قطر کې د پګواش مؤسسې له خوا د افغانستان په قضيه کې د ښکېلو لورو په يوه غيررسمي کنفرانس کې هم، په افغانستان کې د سولې په تړاو بحثونه وشول او په لومړي ځل يو شمېر افغان چارواکي او د دولت وسله‌وال مخالفين د خبرو اترو په مېز سره راټول شول. د دې غونډې ځرګندې هوکړې له رسنيو سره شريکې نه شوې. اوس پوښتنه دا ده، چې په دې غونډه کې څه تېر شول؟ او د غونډې د ګډونوالو له نظره د سولې پر وړاندې پراته خنډونه څه وو؟

له بله پلوه، له تېرې څه مودې راهيسې د هېواد په کچه د امنيتي پېښو له زياتوالي سره، د ناامنيو لمن د هېواد شمال ته هم پراخه شوې او د راتلونکي په تړاو د سولې او آرامۍ هيلې، پر اندېښنو بدلېږي.

خو دا چې د وروستيو ناامنيو تر شا څه عوامل دي، چې له يوې خوا يې د ناامنيو لړۍ تونده کړې او له بلې خوا يې دغه جګړه شمالي ولايتونو ته هم غځولې ده؟ د همدغو موضوعاتو په اړه د دې اوونۍ په تحليل کې، د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز، د څېړنيزې ځانګې شننې لولئ:

# بررسی موانع صلح در نشست قطر



پگواش یک موسسۀ مستقل بین‌المللی بوده و در رابطه به صلح در جهان فعالیت دارد. این سازمان در رابطه به گفتمان صلح در افغانستان، نخستین بار در 22 الی 23 سپتامبر 2012 نشست دو روزه را در دوبی برگزار کرد که در آن جمعی از افغان‌های صاحب‌نظر شرکت داشتند. در پایان آن نشست، جمع‌بندی از نقطه‌نظرهای مختلف در مورد راه‌های پایان جنگ در افغانستان، به نشر رسید.

در نشست سال 2012 پگواش، فیصله به عمل آمد که این نهاد مجالس بعدی گفتگوهای غیر رسمی میان افغان‌ها را، با مشارکت برخی از شرکت کننده‌های غیر افغان، انکشاف خواهد داد و این‌گونه بحث‌ها می‌تواند در آینده در جاهای مختلف تدویر یابد. دیدگاه‌هاییکه در این مجالس مورد بحث قرار می‌گیرند شامل دولت افغانستان، احزاب و گروه‌های سیاسی، رهبری تحریک طالبان و گروه‌های همسو با طالبان و غیره می‌باشد. شرکت کننده‌گان در این مجالس که در هر حالتی با اتکا به توانمندی و ظرفیت انفرادی شان دیدگاه‌های شخصی شانرا ایراد می‌کنند، باید با مراجع رهبری شان در نزدیکی قرار داشته باشند.

در آن نشست تذکر به عمل آمد که در مجالس بعدی، اشتراک کننده‌گانی از کشورهای همسایۀ افغانستان و کشورهای منطقه نیز حضور خواهند داشت تا راجع به همکاری‌های شان در تضمین صلح و ثبات افغانستان و نیز جلوگیری از مداخلۀ خارجی بحث نمایند.

بنابراین نشست قطر را می‌توان ادامۀ نشست دوبی دانست.

## اجلاس پگواش در قطر:

در ابتدا قرار بود این نشست در استانبول ترکیه برگزار گردد، اما از آنجایی که طالبان تمایل به اعزام افراد بیشتری از اعضای دفتر شان در قطر به این اجلاس داشتند و با توجه به اینکه نام این افراد در لیست سیاه سازمان ملل و امریکا ثبت است و در سفرهای شان محدودیت وجود دارد، تصمیم گرفته شد تا این اجلاس در قطر برگذار گردد. تماس با دولت قطر و متقاعد ساختن آنان برای قبول این نشست در قطر، نیز مدتی به طول انجامید که طالبان در قطر نیز در این تماس‌ها با پگواش، همکاری کردند.

در این نشست نماینده‌گانی از حزب اسلامی حکمتیار، شورای عالی صلح، و شخصیت‌های مستقل از داخل و خارج افغانستان و نماینده‌گانی از "یونیما" و دپیلومات‌های بعضی از کشورهای خارجی شرکت داشتند.

در مورد پاکستان نیز شایعاتی از حضور بعضی از اعضای "آی اس آی" در این نشست، وجود داشت و بعضی رسانه‌های جانبدار امریکا نیز تلاش داشتند تا این نشست را سازمان داده شده از جانب پاکستان قلمداد نمایند، اما به زودی بطلان این شایعات ثابت شد.

اما در رابطه با این نشست، یک سوال مهم از همان آغاز کار در ذهن هر افغان وجود داشت؛ آیا این نشست می‌تواند آغازی برای مذاکرات مستقیم میان حکومت افغانستان و طالبان، برای رسیدن به صلح در افغانستان باشد؟ شاید بتوان جواب این سوال را در بیانیۀ طالبان در این نشست دریافت.

## بیانیۀ طالبان در این نشست:

طالبان در این بیانیه گفتند که تحریک شان به منظور قطع جنگ‌های تنظیمی که مجاهدین را بدنام ساخت، و به منظور تحقق آرمان‌های جهاد ملت مجاهد افغان بود که به همین دلیل نیز از حمایت مردم افغانستان برخوردار گردیدند؛ اما به این حقیقت نیز اعتراف می‌کنند که آنها به دلیل نداشتن تجربۀ حکومت‌داری، مرتکب اشتباهاتی نیز شدند.

در این بیانیه، در مورد صلح آمده است که صلح یک مسؤولیت مشترک بوده و راهی برای رسیدن حق به صاحبان حق و پنجره‌ای برای آرامش و خوشبختی در کشور است، اما موانع رسیدن به صلح از نظر طالبان که در این بیانیه آمده است، به موانع خارجی و داخلی دسته بندی شده است.

## موانع صلح از نظر طالبان:

طالبان در این بیانیه به مواردی اشاره می‌کنند که تا تحقق نیابد، مذاکرات صلح ممکن نیست. این موانع را می‌توان چنین برشمرد:

1. اشغال افغانستان توسط نیروهای خارجی، مادر همه مصایب و مانع اولی فراروی مذاکرات صلح است و تا اشغال ادامه داشته باشد، مذاکرات صلح به نتیجه نخواهد رسید.
2. امضای قراردادهای استراتژیک و امنیتی مانع بزرگ بر سر راه صلح خوانده شده است.
3. مانع دیگر فراراه صلح اینست که به جای گفتگو با امارت اسلامی، از کشورهای همسایه خواسته شده تا صلح را به افغانستان برقرار سازند.
4. مسدود بودن دفتر قطر موجب شده تا آدرسی که برای طالبان در نظر گرفته شده بود به میان نیاید و زمینه برای پخش افواهات مغرضانه، در مورد مذاکرات صلح مساعد گردد.
5. وجود نام رهبران طالبان در لیست سیاه مانع دیگری در راه صلح است. به گفتهٔ طالبان، پروسهٔ صلح و لیست سیاه دو مفاهیم متضاد هستند. برای پیشبرد مذاکرات صلح لازم است تا این لیست از بین برود تا جوانب مذاکره‌کننده در شرایط مساوی با هم به مذاکره بپردازند.
6. نبود استراتژی برای صلح در نزد امریکایی‌ها و حکومت کابل مانع دیگری فراراه صلح است. دلیل این امر نیز واضح است و آن اینکه در تامین صلح صداقت ندارند و موضع شان در رابطه به صلح هرروز در تغییر است.
7. افراد وسیط در پروسهٔ صلح باید به صلح باور داشته باشند و از صلح به عنوان یک تاکتیک استفاده نکنند.

## قانون اساسی:

طالبان گفتند که مسودهٔ قانون اساسی باید در فضای آزاد از جانب دانشوران افغانی ترتیب گردد، بعداً برای تائید به ملت پیشکش گردد، قانون اساسی موجود از اینروز قابل اعتبار نیست که از غرب کاپی شده و زیر سایهٔ اشغال جنگنده‌های 52 ایجاد شده است، مواد آن در میان خود متضاد و مبهم هستند و بر ملت مسلمان افغان، تحمیل گردیده است.

## نتیجه:

هرچند طرف‌های شرکت‌کننده در این نشست مذاکره را راه حل بحران موجود در افغانستان دانستند، اما به دلیل اختلاف در مواضع طرف‌های شرکت‌کننده، در پایان این نشست قطعنامه‌ای صادر نشد بلکه آنچه را که صادر شد می‌توان لیستی در 15 ماده از پیشنهادها خواند. مانند خروج نیروهای خارجی از افغانستان که یک جهت تاکید داشت که باید قبل از خروج نیروهای خارجی، پروسهٔ صلح به نتیجه برسد، طرز حکومتِ داعش در افغانستان قابل قبول نیست، در مورد قانون اساسی و نظام آیندهٔ افغانستان باید به صورت تفصیلی مذاکره صورت گیرد تا جلو حکومت‌های انحصاری گرفته شود، اما همه در مورد نظام اسلامی باهم توافق دارند. مذاکرات غیررسمی میان افغان‌ها ادامه یابد. حذف نام رهبران طالبان از لیست سیاه می‌تواند در پروسهٔ صلح تاثیر مثبت داشته باشد.

در این نشست در مورد باز شدن دفتر طالبان در قطر توافق صورت گرفت تا آدرسی برای مذاکرات صلح به میان آید، اما اینکه این کار چگونه و با چه شرایط صورت خواهد گرفت، مشخص نیست. به خصوص اینکه حنیف اتمر مشاور امنیت ملی افغانستان گفته است که حکومت افغانستان در این کنفرانس نمایندهٔ رسمی نداشته و بنابراین فیصلهٔ این نشست نیز برای حکومت این کشور تعهدی ببار نمی‌آورد و وزارت خارجهٔ افغانستان نیز مخالفت خود را با بازشدن دفتر قطر ابراز نموده است.

اما رئیس دارالانشای شورای عالی صلح به این باور است که در مجموع این نشست را می‌توان قدمی هرچند کوچک، اما مثبت به سوی مذاکرات مستقیم صلح دانست و ابراز امیدواری کرده است که مذاکرات مستقیم و علنی میان دو طرف به زودی آغاز گردد.

# وروستۍ ناامني؛ عوامل او نړیوالې توطئې



سوله، ثبات او امنیت ټینګول د هر حکومت لومړني مسؤولیتونه دي، ترڅو د خپلو اتباعو ژوند، مال او عزت خوندي کړي؛ خو په افغانستان کې له تېرې یوې لسیزې راهیسې حکومت په خپل دې کار کې پاتې راغلی او ورځ تر بلې په هېواد کې ناامنۍ او سیاسي بې‌ثباتي زیاتېږي.

د نوي حکومت له جوړېدو او بیا د پسرلي د موسم له پیلېدو سره، د ټول هېواد په کچه خونړۍ امنیتي مخ په زیاتېدو دي او د ناامنیو په وروستۍ څپه کې د جګړې لمن له سوېلي او ختیزو ولایتونو څخه شمالي ولایتونو ته هم، په پوره زور او زوږ سره روانه ده.

شنونکي په دې اند دي، چې په هېواد کې د ناامنیو وروستۍ څپه، د ملي وحدت حکومت داخلي او خارجي سیاست، د سیمې او نړۍ د استخباراتي شبکو دسیسې او ځینې نور سیمه‌ییز عوامل لري.

## داخلي سیاست:

د ملي وحدت د حکومت له جوړېدو سره یو شمېر داسې پرېکړې وشوې، چې پر نورو برخو د اغېزو ترڅنګ یې، د هېواد پر ثبات او امنیت هم اغېزې درلودې. له دې جملې څخه د امنیتي تړون لاسلیک کول، د پوځي عملیاتو پراخول او د داخلي اختلافاتو له کبله، د کابینې په جوړولو کې ناکامي د یادولو وړ دي.

- **امنیتي تړون:**

اشرف غني د ټاکنو پر مهال د هېواد له یو شمېر سیاسي شخصیتونو سره په کتنه کې ژمنه کړې وه، چې د امنیتي تړون لاسلیک به ځنډوي. د دغو سیاسیونو له ډلې څخه یوه یې، چې څو اوونۍ مخکې یې له طالبانو سره په قطر کې کتلي وو، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز ته د نوم نه ښودلو په شرط ویلي، چې اشرف غني د ټاکنو پرمهال، طالبانو ته هم په قطر کې دې ته ورته ژمنه ور کړې وه. خو د دې ژمنې خلاف د ملي وحدت د حکومت له اعلان یوازې څو ساعته وروسته، له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک شو چې په دې توګه د سولې پر وړاندې یو ستر خنډ واچول شو او طالبانو ته د جګړې غځولو شین څراغ ورکړل شو.

د طالبانو د پسرلنیو عملیاتو له اعلان سره، چې طالبان یې د عزم په نامه نوموي، د افغانستان شمالي سیمې، په تېره بیا کندز، فاریاب او بدخشان ولایتونه د سقوط له ګواښ سره مخ شول. طالبانو د عزم عملیاتو په تړاو په خپله اعلامیه کې ویلي وو، چې په دغو عملیاتو کې به د بهرنیانو د پوځي اډو او استخباراتي او دیپلوماتیکو مراکزو ترڅنګ، افغان چارواکي، پوځي مامورین او سرتېري په نښه کړي[1]؛ ځکه د دوی په اند په افغانستان کې د امریکایانو جنګي فعالیت د امریکایانو له اعلان سره سم، پای ته نه دی رسېدلی.

---

[1] د طالبانو د پسرلنیو عملیاتو په اړه د خپرې شوې اعلامیې لپاره، وګورئ:
http://alemara1.org/?p=8338

په دې اړه طالبانو په خپله اعلامیه کې لیکلي: «که څه هم اشغالگرو اوس په افغانستان کې خپل جنگي فعالیت، پای ته رسېدلی اعلان کړی؛ خو په عمل کې یې د امنیتي تړون ترعنوان لاندې د افغانستان ځمکه او فضا په خپل واک کې ساتلي او هم یې په سیاسي، تبلیغاتي، کلتوري، تعلیمي او نورو ساحاتو کې اشغال د پخوا په څیر جریان لري، اوس هم د تیر په څیر د ولسي خلکو پر خلاف ډرون بریدونه او شپني عملیات ترسره کوي او د غبرگ-سري رژیم د جنگي سیستم ټول واک او قومانده په لاس کې لري.»[2]

همدا راز طالبانو په قطر کې د پگواش په کنفرانس کې هم، د امنیتي تړون لاسلیک کول د سولې د پروسې پر وړاندې خنډ بللی او په خپله اعلامیه کې یې ویلي: «متأسفانه هر کله چې اسلامي امارت د سولې په لور قدم ابښی، په مقابل کې د ستراتژیک تړون او امنیتي تړون په نوم عملاً د سولې مخه نیول شوې ده.»[3] دا چې طالبان په افغانستان کې د ناامنیو اصلي عامل بلل کېږي، څکه نو د امنیتي تړون لاسلیک هغوی ته د سولې پر ځای، د جگړې د دوام دلیل وگرځېد.

- **پوځي عملیات:**

د افغانستان دفاع وزارت د طالبانو له پسرلنیو عملیاتو مخکې په هلمند، غزني، میدان وردگو، لوگر او نورو ولایتونو کې د طالبانو پر ضد پراخ عملیات پیل کړل او یو زیات شمېر کسانو ته د مرگ ژوبلې اوښتو ترڅگ، گڼ شمېر کسان پکې ونیول شول.

دغو عملیاتو هم، په هېواد کې پر پراخېدونکو ناامنیو دوه ډوله اغېزې وکړې؛ له یوې خوا یې د طالبانو تود غبرگون راوپاراوه او له بلې خوا یې د جگړې لمن له سوېلي ولایتونو څخه شمالي ولایتونو ته وغځوله. په وزیرستان کې د پاکستاني پوځیانو له خوا هم په ډېر شدت سره د ازبک، چیچن، او نورو غیر افغاني ډلو پرخلاف عملیات وشول، چې له کبله یې د دوی او افغان طالبانو مخه د افغانستان د شمال پر لور شوه.

---

[2] تېر ماخذ.

[3] د طالبانو د اعلامیې د بشپړ متن لپاره، ولولئ:

الامارة، د پگواش په څېړنیز کنفرانس کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر د پلاوي له لوري د لوستل شوې بیانیې متن، ۳ می ۲۰۱۵ کال:

http://alemara1.org/?p=10653

## خارجي سياست:

که څه هم اشرف غني تر اوسه د یوه معتدل بهرني سیاست په هڅه کې دی؛ خو له پاکستان سره نږدې کېدونکو اړیکو په تېره بیا د سولې په تړاو له دغه هېواد سره تولې هیلې ترل، د روانو حالاتو تر شا یو لامل ګڼل کېږي. طالبان له تېرو څو کلونو راهیسې هڅه کوي، چې ځان د پاکستان له اغېزو څخه پاک او خپلواک وښيي. له همدې امله په ۲۰۰۷ کال کې د طالبانو یو مهم چارواکی ملا عبیدالله د پاکستان د حکومت له خوا ونیول شو او بیا په ۲۰۱۰ کال کې هملته ووژل شو. وروسته ملا برادر او د قطر دفتر د مشر طیب آغا ورونه هم په پاکستان کې د فشار د وسیلې په توګه ونیول شول، چې په ټولیز ډول په دې موده کې ۲۲ جګپوړي طالب مشران د پاکستان په زندانونو کې وژل شوي دي.

طالبان د اشرف غني له دا ډول بهرني سیاست څخه خوښ نه دي؛ ځکه د دوی په اند دغه سیاست په افغانانو کې داسې ذهنیت خپور کړی، چې پاکستان به اوس طالبان کابل ته سپاري او سوله به ټینګېږي. طالبانو له همدې امله په ډېر شدت سره خپل پسرلني عملیات پیل کړل، ترڅو وښيي چې د دوی واک د پاکستان په لاس کې نه دی.

## نړیوال لاملونه:

په افغانستان کې روانې ناامنۍ نړیوال لاملونه هم لري، چې له کبله یې جګړه د شمالي ولایتونو په لور وړل کېږي. د شمال په لور د جګړې تګ هم دوه اړخونه لري، چې یو یې په وزیرستان کې د پاکستاني پوځ عملیات او دویم هم په افغانستان کې د داعش ډلې ظهور دی.

- **د وزیرستان عملیات:**

کله چې د پاکستان د کراچۍ په هوايي ډګر کې (د ۲۰۱۴ کال د جون په ۸مه) د پاکستاني طالبانو او د ازبکستان اسلامي غورځنګ له خوا بريدونه وشول، نو په غبرګون کې د پاکستان اردو (د ۲۰۱۴ کال د جون پر ۱۵مه) په وزيرستان او نورو قبايلي سيمو کې پوځي عمليات پيل کړل، چې لاهم روان دي.

د دغو پوځي عملياتو له کبله ډېرى چيچن، ازبک، ايغور او تاجک وسله‌وال اړ شول چې د افغانستان شمالي سيمو ته ځانونه ورسوي ترڅو خپلو سيمو ته هم نږدې شي.

- **داعش ډله:**

دا چې په افغانستان کې رښتيا هم د داعش ډلې فعاليت شته دى کنه؟ لاهم يوه معما ده؛ خو د ولسمشر په ګډون جګپوړي افغان چارواکي د دغې ډلې د شتون په اړه خرګندونې کوي. د پارلمان د وکيلانو په اند داعش ډله د سيمې د استخباراتي کړيو پروژه ده او موخه يې په منځنۍ آسيا کې د ناامنيو جوړول دي. د افغانستان د ملي امنيت سلاکار حنيف اتمر هم د مشرانو جرګې په استجوابيه غونډه کې له همدې خبرې سره همغږي وښوده.

تر اوسه ايله دومره معلومه ده، چې داعش ډلې د سيمې لپاره د خراسان تر نامه لاندې خپل امير ټاکلى؛ خو د دوی د فعاليتونو په تړاو له څو ويډيوګانو پرته، نور څه نشته. د جلال آباد په خونړۍ پېښه کې هم، چې په پيل کې په داعش وتپل شوه، د داعش ډلې له خوا د دوی لاس لرل رد شول.

که څه هم داسې برېښي چې داعش ډله په افغانستان کې تراوسه ملموس فعاليت نه لري، خو په وروستيو ناامنيو کې دا ډله هم د يوه عامل په توګه مطرح ده. افغان چارواکي هم د دې ډلې په تړاو د تبليغاتو په کچه کې خرګندونې کوي، په داسې حال کې چې د جګړې ډګر طالبانو او حزب اسلامي ډلو ګرم ساتلی؛ مګر دا چې افغان حکومت ولې دا ډول دريځ خپل کړی، په اړه يې لاندې نظرونه موجود دي:

**لومړی:** د داعش ډلې پر ضد د مبارزې تر نامه لاندې د نړيوالو مرستې راجلبول او په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو د پاتې کېدو موده غځول؛

**دویم:** داعش ډله د طالبانو پر ضد د فشار د وسیلې په توګه کارول کېږي، ترڅو هغوی سولې ته چمتو شي؛

خو په افغانستان کې د داعش ډلې د رښتیني شتون په تړاو بیا شنونکي په دې نظر دي، چې افغانستان د یوې بلې نړیوالې توطئې ښکار او ډګر ګرځي، چې له مخې یې امریکا په سیمه کې خپل رقیبان ځپي.

د دې ترڅنګ روسیه هم وخت ناوخت په افغانستان کې د داعش ډلې د شتون په اړه اندېښنې څرګندوي او دا چې ازبک او چیچن وسله‌وال هم ځانونه خپلو سیمو ته نږدې کوي، داسې انګېرل کېږي چې ګویا له روسیې څخه د یوکراین بدل اخېستل کېږي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com – www.csrskabul.net

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)